






# عبدالحفيظ « مليار ـ ساپی »

د نشرنيټه : 17 مارچ 2019 م

# شين لغمان

ډير مې ياديږي شين لغمان ښکلی دی
دشعر، ادب باغ او بوستان ښکلی دی

قلع سراج باغ د نارنج دګلو
هلته د عطرو ډک باران ښکلی دی

د تيرګريوو مازيګر خوند کوي
په غره چکر د پراشغان ښکلی دی

د اليشنګ او الينګار سردرې
داقرغيي جنت نشان ښکلی دی

په شکور اباد کې هغه خړې کوڅې
ماته خو خلکو له جهان ښکلی دی

شډل پډل هغه صادقه خلک
په محبت کې بې ايمان ښکلی دی

داد « الفت » ، « شپون» او« کاکړ» په قبر
دا سرخکان ، کڅ عزيز خان ښکلی دی

ده هره پيغله بې نازو ،ملاله
لکه تېپه د ياقربان ښکلی دی

دیره هوجره منگی رباب و پکي
تیر دځوانی هغه دوران ښکلی دی

د مهترلام بابا زیارت ته به تلوو
د میلو ځای مو هر زمان ښکلی دی

که مي توتان او یا شوملي یادیږي
د خیال او فکر مي ارمان ښکلی دی

حفیظ « ملیار» لره غزل ، غزل دی
ځنګ چي هرچالره جانان ښکلی دی

***

عبدالحفیظ « ملیار »

بازگشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org